# د یوناما خبری کنفرانس

د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ادریان ادواردز، د ملګرو ملتونو د مرستي د پلاوی د استراتیژیکو اړیکو او د ویاندوي د دفتر مشر**

**داکتر نیلاب مبارز، د ملګرو ملتونو د مرستي د پلاوی د استراتیژیکو اړیکو او د ویاندوي دفتر څخه**

**نادر فرهاد د ملګروملتونو د کډوالو د اداری ویاند په کابل کی**

*کابل- د مارچ د میاشتی شپاړسمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

### د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی واشنګټن او نیویارک ته په سفر

د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی کای آیده دا اونی د امریکې په متحده ایالاتو کې دی، چې هلته د نورو غونډو په لړ کې هغه به د امنیت شورا ته د راتلونکي لپاره د افغانستان لپاره د مرستندویه پلاوی (یوناما) د ماموریت د غزیدلو په اړه وینا وکړي.

### د ملګرو ملتونو د سرمنشي راپور

هر کال دوه ځله د ملګرو ملتونو سرمنشي د افغانستان د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي آسامبلي او د امنیت شورا ته یو راپور وړاندې کوي چې د دې غړی هیوادونه هغه ماموریتونه لکه یوناما تمدیدوي. دغه راپورونه عمومي سندونه دي او لکه چې ستاسو څخه ډیر په دې پوهیږئ چې وروستنی راپور تیره اونی خپور شو.

د هغه چا لپاره چې تر اوسه پورې یې دغه راپور نه دی لیدلی مونږ دلته د هغه کاپی ګانې چمتو کړې دي چې د څنګ له میزه یې تر لاسه کولای شئ. په دغه راپور کې په دې ټینګار شوی دی چې په ۲۰۰۹ کې به افغانستان د دولتي واک د قانونمندئ لپاره د څه ډول آزمایښت سره د ټول ټاکنو، د قانون د حاکمیت او څرګنده ده چې د امنیتي حالت په اړه مخ کیږي.

### د ګوزڼ د ناروغۍ د مخنیوی د واکسین درې ورځنی کمپاین پیل شو

ولسمشر د ګوزن د ناروغی د مخنیوی په موخه د واکسیناسیون وروستنی کمپاین د جمهوري ریاست په ماڼي کې ماشومانو ته د پولیو د څاڅکو په ورکولو سره تیره ورځ پیل کړ.

دغه کمپاین کې به ټول د هیواد ۳۴ ولایتونه شامل وي او دا به ټول ټال ۷,۷ میلیون نوی زیږیدلی او تر پنځه کلنی پورې ماشومان تر پوښښ لاندې راولي.

دغه د واکسیناسیون کمپاین د عامې روغتیا د وزارت له خوا د ملګرو ملتونو د ماشومانو د صندوق (یونیسف) او د روغتیا د نړیوال سازمان د ملاتړ لاندې پر مخ ځي. له ۵۰،۰۰۰ څخه زیات کارکوونکي همدا اوس په دغه درې ورځني کمپاین کې شامل دي.
سږ کال افغانستان کې تر اوسه پورې د پولیو څلور تایید شوې پیښې ثبت شوي دي. درې یې د کندهار د شاه ولي کوټ، پنجوایي او دامان د ولسوالیو څخه دي او څلورمه یې د هلمند ولایت د نادعلي له ولسوالی څخه ده.

### د ملګرو ملتونود د کډوالو موسسه د ۲۰۰۹ کال پروګرام جوړوي

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره په پام کې لري چې د بیرته راستنیدني عملیات په راتلونکو څو اونیو کې وروسته د ژمنیو ځنډیدو څخه یو ځل بیا پیل کړي. د یو این ایچ سی آر د پروګرامونو مرکز په دې اند دی چې د بیرته راستنیدني، بیرته یو ځای کیدني او د افغاني راستنو شوو کډوالو او په داخل کې د بیځایه شوو کسانو د ساتني لپاره تحفظ برابر کړي.

د ۲۰۰۹ لپاره د یو این ایچ سی آر د پروګرامونو په اړه د لاز یاتو معلوماتو لپاره مطبوعاتي راپورونه د اړخ په میز وګورئ

### د فبروری په میاشت کې د نړیوال خوراکي پروګرام د خوراکی توکو ویش

په فبروري کې، نړیوال خوراکي پروګرام د کار په وړاندی د خوراکي توکو د پروګرام له لارې له نږدې ۶۰۰،۰۰۰ وګړو، له ۳۹،۰۰۰ څخه زیاتو د نري رنځ له ناروغانو او د هغوي له کورنیو، له نږدې ۲۲۰،۰۰۰ وګړو سره د خوراکي توکو د عام ویش د پروګرام له لارې او له ۲۴۵،۰۰۰ څخه له زیاتو کوچنیانو سره په ښوونځیو کې د خوراکي توکو مرسته کړې ده.

د هغو کسان لپاره، چې په افغانستان کې د بشرپالنې په روانو چارو کې ليوالتيا لري، نړيوال خوراکي پروګرام په پرلپسې ډول له نوو پېښو/حقايقو او شميرو سره مياشتني تازه معلومات خپروي. د وروستنيو تازه معلوماتو کاپي څنګ ته پر ميز پرتې دي.

**د کډوالۍ نړيوال سازمان د انساني قاچاق پر وړاندې مبارزه کوي**

افغانستان د هغو ماشومانو او ښځو اصلي ځای دی، چې د انسانی قاچاق کوونکو قربانيان دی او د ډول ډول ناوړه چلندونو ښکار کيږي. دوي همدارنګه دې ملک ته په قاچاق وړل کيږي او له هغه څخه تيريږي.

د کډوالۍ نړيوال سازمان د قانون د تطبيق کوونکو چارواکو، قضايي کارمندانو، د ټولني او مذهبي مشرانو، ښوونکو، زده کوونکو او مدني ټولنې په ګډون، په دې وروستيو کې په دواړو برخو کې په لوړه او ټيټه کچه په ټول هيواد کې د مختلفو کليدي ډلو سره د هغوي د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې له نوښتونو سره يوځای شوی دی.

د کډوالی د نړيوال سازمان د دغو معلوماتي کمپاينونو له لارې له زيات شمير افغانانو سره مرسته کړې ده چې د انساني قاچاق پر وړاندې مخه نيوونکي ګامونه پورته، د ممکنه ( پوتانسيال) او حقيقي پيښو په اړه راپور ورکړي او همدارنګه د پيښې د قربانيانو سره لازمه مرسته ترسره کړي.

**يونيسکو- د شعر نړيواله ورځ**

د شعر نړيواله ورځ به په ټوله نړۍ کې راتلونکی شنبه، د مارچ په ۲۱ نېټه ولمانځل شي. د دې ورځې موخه دا ده چې د شعر لوستلو، ليکلو، خپرولو او ښوولو ته وده ورکړای شي.

لکه څرنګه چې تاسو ټول پوهيږئ، شعر په افغانستان کې اوږد تاريخ لري او دا د کلتور يوه بشپړونکې برخه ده.

يونيسکو په افغانستان کې هيله لري چې د شعر نړيواله ورځ به د کلتور له لارې د سولې د پايښت او ثبات لامل وګرځي او همدارنګه به د افغانستان غني شعري ميراث خوندي وساتئ.

**د پوښتنو او ځوابونو برخه:**

**راه نجات:** تاسو وويل چې د دوو اونيو په ترڅ کې به له ايران څخه د کډوالو د راستنيدلو لړۍ پيل شي، زما پوښتنه دا ده چې د ساړه ژمني سربيره ايران تير کال افغان کډوال دې ته اړ ايستل چې خپل هيواد ته ستانه شي، او پېدغالی هم په بد وضعيت کی دي، آيا ملګرو ملتونو دغه مسله د ايرنې چارواکو سره مطرح کړې؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان:** موږ بايد د ثبت شويو افغان کډوالو او نورو تر منځ چې په ايران کې په قانوني او رسمي ډول ژوند کوي توپير وکړو. هغوي د ايران د حکومت له خوا راجستر شوی دي. تر اوسه پورې د ايران د حکومت له خوا هيڅ يو راجستر شوی افغان کډوال هيواد ته نه دي را شړل شوي، خو هغه کسان چې د تيرو څو مياشتو په ترڅ کې هيواد ته راشړل شوي، زياتره برخه يې اقتصادي کډوال دي. دا هغه کسان دي چې په ناقانونه توګه د هيواد د پولو څخه د ايران لور ته اوشتي او په نتيجه کې د ايران د حکومت له خوا بيرته هيواد ته راشړل کيږي. هغه کسان چې هيڅ ډول قانوني اسناد نه لري او هغه کسان چې په دې ورځو کې د پاسپورت او ويزې نه پرته ايران ته سفر کوي، بې له شکه نيول کيږي او بل ډول چلند ورسره کيږي. موږ هميشه د بشري اړخ څخه دغه خبره راولاړه کړې چې هيڅوک بايد ونه وهل شي. د دغو خلکو بشري حقونو ته بايد درناوي وشي. که چيرې هغوي خپل هيواد ته شړل کيږي نو دا کار بايد په يوه منل شوي لاره ترسره شي. موږ هم د هغو کسانو لپاره چې هيڅ قانوني اسناد نه لري، مرستې رسولې دي. د بيا يو ځای کيدنې پروګرام به د هغو کسانو لپاره چې قانوني اسناد لري پيل شي. دا لړۍ به د اپريل د مياشتې په لومړۍ نېټه پيل شي.

**راديو آزادی:** څو ورځې وړاندې د ملګرو ملتونو سرمنشي بانکي مون وويل چې په افغانستان کې د امنيت حالت د ويجاړتيا پر لور روان دی، هغه په دې اړوند ژوره اندېښنه وښودله، او همدارنګه دغه ټکی په

افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو د قوماندان له خوا هم څرګنده شوې. تاسو فکر نه کوئ چې د دغه ډول تبصرو سره به افغانان خپلې هيلې له لاسه ورکړي او ملګري ملتونه څه کولای شي؟ آيا تاسو فکر نه کوئ چې يوه بيړنۍ غونډه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا له خوا نه دی راوبلل شوې او د افغانستان د دولت او بهرنيو ځواکونو لپاره ستاسي وړانديزونه څه دي؟

**يوناما (ادرين اډوارډز):** د ملګرو ملتونو د سرمنشي راپور د افغانستان د وضعې په اړه دی او لکه چې تاسو پوهيږئ هغه د عمومي آسامبلی او د امنيت د شورا لپاره دی. د دې سرليکونه د ستونزې د هغو اړخونو څخه دی لکه چې تاسو وويل هغه د امنيتي حالت د خرابيدو او په نورو ډګرونو کې د ناهيلیو څرګندويه دی، خو په هغه راپور کې ډيرې مهمې برخې دي چې د پرمختګ رينښتونی امکانات ښکاره کوي. اوس تاسو پوهيږئ چې د مارچ په ۳۱ نيټه به موږ په هاګ کی غونډه لرو چې هلته به افغانستان او د هغه همکاران سره راټول شئ او په دې غورو وکړي چې څنګه کيدلای شي په ښه توګه د افغانستان ملاتړ وشئ.

زموږ هيله دا ده چې دغه غونډه به په دغو ساحو کې د ممکنه پرمختګ لپاره غور وکړي او په دغو ډګرونو کې به د کار پيل وشي. د مثال په ډول په امنيتي سکټور کې د روانو اصلاحاتو په اړه خبرتيا لرئ، د کورنيو چارو په وزارت کې، تاسو زموږ څخه اوريدلي دي چې سږ کال به د ترياکو کښت کې کمښت راشي او د لږو حاصلاتو وړاندوينه کيږي. دا مثبت بدلونونه دي او په کار ده چې پر هغو ټينګار وشي. موږ د سيمه ييزې همکارۍ نښې ګورو، د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړيکو ښه والی ګورو او همدارنګه د نورو ګاونډيانو سره. زموږ وړانديزونه په هغو ساحو متمرکزې دي چيرته چې برياليتوب تر لاسه کيدای شي او په دغو ساحو کې کار په کار دی.

**رويترز:** که وکولای شي د ولسمشر بارک اوباما په وروستيو خبرو تبصره وکړئ چې ويلي يې و دې حاضر دی چې له ميانه طلبه طالبانو سره خبرې وکړي او د هغو راپورونو په اړه څه ووایاست چې له افغانستان څخه بهر د افغاني چارواکو او طالبانو د مذاکرو په باب خپاره شوي دي. آيا ملګري ملتونه په دې کار کې شامل دي او يا د هغه ملاتړ کوي؟

**يوناما (ادرين اډوارډز):** موږ په دې خبرو کې چې اوس په دوبي کې جريان لري په مستقيم ډول شامل نه يو. د يوناما اصلي هدف دا دی چې له افغانستان سره مرسته وشئ چې سوله لاس ته راولي. موږ ډير پخوا د دې پلوي کړې ده چې موږ د افغانستان د وضعې د حل کولو لپاره سياسي حل لارې ته ضرورت لرو مخکی له دی چې دا مسله خورا محبوبيت تر لاسه کړئ. د ملګرو ملتونو خاص استازی آيده هم ويلی دی چې د سولې په لار کې هيڅ يو داسې اصل چې د افغانستان د اساسي قانون بنياد وي، د ښځو د حقونو په ګډون، نه شي کيدای چې تر پشو لاندې شي. موږ د سولې ټولې خبرې تشويق کوو خور راځئ چې خپل اوصول په خپل ځای کې وساتو.

**د آريانا تلويزيون:** د ملګرو ملتونو خاص استازی کای آيدي په دې هفته کې په نيويارک کې دی چې د امنيت شورا ته د افغانستان د وضعې په باب راپور وکړي. که موږ په افغانستان کې واقعيتونه په نظر کې وساتو لکه ناامني، د ملکي کسانو د تلفاتو په باب اندينښني، فساد او په حکومت باندې د خلکو په اعتماد کې کموالی، او دغه راز په افغانستان کې نړيواله نا څرګنده مرسته، د کومو حقايقو او لاس ته راوړنو په باب به ځانګړی استازی د امنيت شورا ته راپور ورکړي؟

**يوناما (ادرين اډوارډز):** زه له دې سره موافق نه يم چې لاس ته راوړني نه لرو. زه له دې سره بالکل مخالف يم. موږ وينو چې اوه ميليونو ماشومان ښوونځيو ته ځي، لکه تاسي چې به ډير ځله اوريدلی وي. زه يو همکار لرم چې اوس له مسکو څخه راغلي دی، هغه وايي چې د افغانستان سرکونه تر ټولو ښه شوي دي، تاسي نورې ډيرې او څرګندې لاس ته راوړنې لري. په دی اړه راځئ چې روښې واقعيت بيني غوره کړو. زه فکر کووم چې ځانګړی استازی نه تمه کيږی چې د هغه مسايلو په اړه د امنيت شورا ته معلومات ورکوي چې په هغه برخو کی چټکه پرمختيا رامنځ ته کيدای شئ که تاسي غواړي چې له فساد څخه ځانونه خلاص کړي، که غواړئ چې د نشه يي توکو له شر څخه ځان خلاص کړئ چې په سرحدونو کې شته، که غواړي چې د امنيت له ستونزو څخه خلاص شي چې په سرحدونو کې شته، که غواړئ چې قانون حاکميت پيدا کړي، تاسي د دې کارونو د پيل لپاره ډيرې ښې پوليسي قوي ته اړتيا لري. او موږ په نورو ادارو کی هم د پرمختيا ليدل غواړو.

ما د ځانګړې استازې سره په تیرو څو اونیو کې ایران، ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان ته سفرونه درلودل. موږ ولیدل چې په دې ټولو ملکونو کې د دې لیوالتیا شته چې له افغانستان سره خصوصا د بنیادي ساختارونو په پروژو کې همکاري وکړي لکه د اوبو مساله او په ټولو برخو کې تجربې شریکې شي. موږ وینو چې په راتلونکې کې به له افغانستان سره د سیمه ییزې همکارۍ په مانا ډیر کارونه یو ځای وشي. په دې کال کې ما په بل ځای کې دی ته اشاره کړې ده چې د نشه یي توکو د کښت د منع په باب په وضعه کې ښه والی راغلي دی. موږ د دې شاهدان یو چې په وروسیتو څو میاشتو کې په حکومت کې مثبت بدلونونه منځ ته راغلي دی. یو نوی ریفورم غوښتونکی د سوداګرۍ وزیر او د زراعت لپاره یو دیر قابل وزیر. موږ مخکې د دې ضرورت په باب خبرې کړې دي چې د کرنې په سکتور باندې باید زور واچول شي او خاص استازی به دغه پیام ورسوي.

**افغانستان ټایمز:** د ټول ټاکنو وخت د اګست میاشت ټاکل شوې ده. د دې لپاره چې د ولسمشر دورې د پایې وروسته د دولت قانونمندي وساتله شي نو په دې اړه د یوناما مسوولیت څه دی؟

**یوناما (ادرین اېوارډز):** موږ خپل د کار ماموریت لرو چې هغه موږ ته د دې اجازه راکوي چې په افغانستان کې د ټول ټاکنو لپاره تخنیکي ملاتړ برابر کړو. دغه د کار ماموریت او دنده چې کله بیا نوې شي نو تاسو به د هغې جزئیات وګورئ. یو لړ کارونه دي چې یوناما یې نشی ترسره کولای هغه څه چې دلته ښکاره دي چې ملګري ملتونه نه شي کولای افغانستان ته د هغه د راتلونکې په اړه د څه دیکته کول دي. دا د افغانستان د خلکو او سیاست والو دنده ده چې په دې اړوند پریکړه وکړي. یوه اړونده موضوع چې دا د هر چا لپاره په فکر کې څرګنده ده هغه د اساسي قانون په اړه پیچلتیا ده چې د می وروسته زموږ او ستاسودټولو په وړاندې ده، خو اساسي قانون د دغه ډول راتلونکو پیچلتیاوو د حل کولو وروسته لا پیاوړې کیږي، او دغه ډول پیچلتیاوې باید د حل لاره ومومي.

**ندا راډیو:** د ټول ټاکنو په باره کې، د دې کار د ټولټاکنو بودجه ۲۰۰ میلیونه تخمین شوې ده، د دې بودجې څومره برخه یې ورکړل شوې ده. زما مطلب دا دی چې په دقیق ډول د څومره مرستې ژمنه شوې ده او څومره یې په دقیق ډول رسیدلې ده؟

**یوناما (ادرین اېوارډز):** د ټولټاکنو لپاره په دې کال کې ۲۲۳ میلیونه ډالره ښودل شوي دی. ترڅو ورځو پخوا پورې زه فکر کوم چې د دغه شمیرې څخه یوازی ۷۱ میلیونو لا تر اوسه پاتې دي چې د هغې ژمنه وشيځ. په دغه رقم کې هغه مرستې نه دي شاملې چې د لویو تمویلوونکو له خوا به کیږي او لا تر اوسه څرګنده نه ده. په دې مرحله کې داسې بریښي چې د تمویل مساله جریان لري او ډیره د فورې اندیښنې خبره نه ده.

**د بی بی سي پښتو راډیو:** څه فکر کوې چې سږ کال به څومره خلک هیواد ته راستانه شي، تیر کال چې کوم کډوال راستانه شوي وو، هغوي په بدو شرایطو کې ژوند کاوه. د مرستو څه ډول پروګرامونه دغو خلکو ته په نظر کې نیول شوی دی؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان:** د ایران او پاکستان څخه د کډوالو د راستنیدولو په حواله باید وویل شي چې د راستنیدنې دغه لړۍ د ۲۰۰۲ کال راهیسې په رضاکارانه ډول پیل شوې. د بیا راستنیدنې دغه لړۍ باید رضا کارانه ،له وقاره ډکه او د امنیتي لحاظه خوندې وي. دا د افغانانو د راستنیدلو د اصولو یو مهم اړخ دی. یو این ایچ سی آر او د افغانستان حکومت نه شي کولای د روان کال په ترڅ کې د افغانانو د راستنیدنې په هکله دقیقې شمیرې وړاندې کړي، ځکه چې دغه لړۍ پخپله خوښه ترسره کیږي.بله مسله د بودجې او پروګرامونو په اړه ده، تمه کو چې نږدې ۲۲۰،۰۰۰ افغانان به خپل هیواد ته ستانه شي. خو زه ټینګار کوم چې دغه ټولې شمیرې د اټکل له مخې په نظر کې نیولی شوي او کیدای شي په هیواد کې د کوم پرمختګ پر بنسټ بدلون ومومي. د تیر کال په ترڅ کې نږدې ۲۸۰،۰۰۰ افغان کډوال په رضا کاره توګه د پاکستان د اسلامي جمهوریت څخه خپل هیواد ته ستانه شوي او خپلو اصلي ټاټوبو ته تللی. خو له بده مرغه ځینې د سرپټونې د نه شتون له امله د ستونزو سره مخامخ شوي دي. دا په رښتیا سره هغه کار دی چې په کړو یې یو این ایچ سي آر تاکید کوي، دغه لړۍ باید په خپله خوښه، له وقاره ډکه او تدریجي توګه وي.